آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۱۶

# لارورکي لارویان

## اوه لسمه برخه

## په ماسکو کې د افغانانو فرهنګي هڅې

دوطن یاد مشاعره:

ما باندي وطن کې د ځوزانو بړستن واچـوئ
زه پردي وطن کې د ورېښمو کمپل نه غواړم

(آصف بهاند)

دا مشاعره زما (آصف بهاند) په کوربه توب، زما په استوګنځي کې د یو شمیر وتلو فرهنګیانو، په ګډون جوړه شوې وه. سره له دې چې دا وخت د افغانستان د فرهنګ ټولنه تاسیس شوې هم وه، خو د فرهنګي دوستانو د دلسردی او پراګندګی په وجه ځینو دوستانو هیله درلوده چې که په شخصي ډول ځیني فرهنګیان سره ټول شو، ښه به وي. یو خوا به د شته ستونزو په باب خپل نظریات سره شریک کړو او له بله پلوه به د زړه خوالي په ترڅ کي یوه مشاعره هم جوړه کړو. نو هماغه و چي دا بار ما پر اوږوو واخیست او ځیني فرهنګیان مو د۱۹۹۴ کال د سپتمبر په ۲۵ نیټه سره را غونډ کړل. دغي مشاعرې ته لاندې ښاغلي رابلل شوي وو:
محمد انورنومیالی، لطیف بهاند، استاد محب، زرین انځور، غلام حسن شور، شیرمحمد بهیر اسماری، لطف الرحمن خاموش، افضل ټکور، همایون کامران، حمدالله ګران، داود جنبش، آرزومند، نظیف تکل، صالح پیروز، مزدور، میرویس، داکترخیرخواه، فدا محمد خواریکش.
د غونډې مشري ډوکتور لطیف بهاند کوله. ده په پیل کي و ویل:
«د خوشحالئ ځای دی چي موږ سره یو ځای یو، تولي آشنا ځیري، لیکوالان، شاعران او د شعر او ادب مینه وال دي. دا دی د نورو مشاعرو په لړ کي نن بیا مشاعره ده، هیله ده چي تاسي ټول په کي ګډون وکړئ او خپل شعرونه ولولئ. زه غواړم مشاعره په دغو بیتونو پیل کړم:

د مــیـکـدې به خدای قـضـا راوسته
چـې پــه اختـیارکي يې دملا راوســته
مـنـم رهـبر پــه خـپـله مخ کــې لاړو
خـو قـافـلـه خـو یــې په شا راوسته
څـومـره جـونګړوته يې اوروته کـړ
چي خـپل محـل تــه يې رنـا راوسـته
چا در ته وې چې زړه کې ځای ورکوه
سلیـمـه کـورتــه د ې بــلا ر او ستـه»

په دې مشاعره کې ټولو حاضرو شاعرانو خپل یو یا دوه یا درې ټوټې شعرونه ولوستل. ما دلته یوازې د لطف الرحمن خاموش او انځور صاحب شعرونه انتخاب کړي دي. په پیل کې لطف الرحمن خاموش د «اور او شمال» تر سرلیک لاندې یو آزاد شعر واوراوه، چې مخکې یې بشپړ متن په همدې کتاب کې راوړل شوی دی. بیا څو نورو شاعرانو خپل شعرونه واورول، کله چې د انځور صاحب وار را ورسید، په پیل کې یې د کاروان صاحب څو بیتونه او یونوی شعر چې د ده په آدرس را لیږل شوي وو، حاضرینو ته واورول. هغه بیتونه او بشپړ نوی شعر دا دي:

د وطن پیغلې مې په غاړه وړې د اوښکو امیل
د پاریس پیغلو ته غمې له بدخشانه رسي
د ګل په لیو کې به ترې د عا لولپه شي
چې د باروتو په سیلۍ کې تر آسمانه رسي
د زړه لاسونه یې سوري دي او که څه کیسه ده
د وینو لپه شي غزل چې تر کاروانه رسي

دا هم د کاروان صاحب نوی شعر چې انځور صاحب ته رسیدلی و:

زړه یم خو د درد په پښو پرهار راسره ځي
وخت لکه لیوه غونډې په لار راسره ځي
ښکلیه ستا په مسته منصوري مینه بدنام یم
دار را سره درومي او سنګسار را سره ځي
روغ وم لیونی یې کړم تندی یې را ته مات کړ
کاڼي په لمنو کې هوښیار را سره ځي
غوخ یې کړ، تابوت یې کړ، ستا نوم به مې لیکه پرې
ستا په نامه خاورو ته چنار را سره ځي
ګله ستا ثنا وایي د تن په پنجره کې
یو بندي بلبل مې په چغار را سره ځي
تولــه شــپه سپوږمۍ په ورکو ستورو پسې ژاړي
لمر په وینو لژند هر سهار را سره ځي
دی د زړه ګلدان مې ډک د زخم له ګلونو
نه مرمه مالګین حسین مالیار را سره ځي
ستا په یو تصویر پسې په ورکو لارو سر دی
ګوره دهندارو کاروان بار راسره ځي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې مشاعره کې تر ټولو نوې او په زړه پورې خبره دا وه چې د لومړي ځل له پاره د زرين انځور په غږ کې، د ده خپل شعر واورول شو. انځور صاحب په خپل وار کې د کاروان صاحب د شعرونو له دکلمې نه وروسته، په نا څاپي ډول غږ وکړ چې:
اوس به زه خپل يو ټوټه شعر تاسو ته واوروم. ټولو حاضرينو د حيرانتيا په حالت کې ده ته وکتل او غوږ، غوږ شول او انځور صاحب خپل لاندې شعر دکلمې کړ:

هـم خـزان کې هـم بـهار کې تاواني يـو
مـوږ د ژونـد پـه هـره لار کې تـاواني يو
څـه د سترو ورځـو خـلک يو خـاونده
هـم پـه کـار کې هـم بـيکار کې تاواني يـو
دا زمـوږ پـه تـنـدو څـه کاني دي شـوي
څوک پـه کلـي څوک په ښارکي تاواني يـو
د رنـا او د تـورتـم تـوپيـر يې نه شته
هـم ماښام کې هم سهار کې تاواني يو
پخـوا بـريـتو وطـن وسـيځـه په اور کـې
اوس د ږ يـرو په ناتار کې تاواني يو
لـه سکـروټـو له ګلـونـو يې څـه پوښتئ
انګـار څـه کوئ ګلزار کې تاواني يو
د مـاسکو د رينګـونـو حال خـو ګـورئ
مـوږ د ميني هـر بازار کې تـاواني يو
د جـلا د اودي پـی مخـو تـړون يـو شـو
دار لا څـه د زلـفو تـار کې تاواني يو

د مشاعرې په وروستی برخه کې ډوکتور لطيف بهاند و ويل:
«ټولو هغو دوستانو نه چې نن را ټول شوي دي او دلته يې پښتني حجره جوړه کړې ده، ډېره مننه؛ له هغو کسانو نه مننه چې دلته يې شعرونه ولوستل او د وطن ياد يې وکړ. موږ دې هغه دوستان وبښي چې دوی هلته په وطن کې په ډېرو سختو حالاتو کې ګير دي او سختې شپې تيروي او موږ دلته لږ څه آرامه يو، موږ هم ډير نا آرامه يو، د خپل وطن او خلکو له پاره.»

## کابل د کنډوالو ناوې:

يوه ورځ چيرته په ماسکو کې څو تنه فرهنګيان ناست وو او د افغانستان پر حالاتو، په تيره د افغانستان پر فرهنګي حالت چې د سا ايستلو جوګه هم نه دی؛ خبرې مو کولې. د مجلس حاضرينو هر يوه په خپل وار سره د خپلو هغو فرهنګي مؤسساتو په باب د افسوس نه ډکې خبرې کولې چې دوی د هغو مؤسساتو منسوبين وو. جوړ کابل مو ياداوه چې څنګه په کنډواله بدل کړای شو او...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولـئ

ما له نوروحاضرینو ډیر په کابل کي له فرهنګي کړیوسره ځان تړلی باله. په کابل پوهنتون کي مي تدریس کاوه، د افغانستان د لیکوالو ټولني د مرکزي جرګه ګی غړی وم، په رادیوتلویزین کي مي د ځینو پرګرامونو د لیکلو قرارداد درلود او په دایمي ډول مي څو چاپي رسنیو ته مقالي لیکلي؛ نو په بد فرهنګي حالت او وران کابلګي باندي به مي تر نورو ډیري خبري کولي او د کابل د بیلابیلو سیمو د یادولو په ترڅ کي به مي ډیر افسوسونه کول.
کور ته د تګ په وخت کي حیدر پردیس ښندي ته کړم او راته وې ویل:
غواړې بیا آباد کابل و وینې؟
ما ور ته و ویل ښنګه؟
دا خو له امکانه لرې خبره ده. بیا یې را ته و ویل چي:
دلته یو ځوک شته چي د جوړ او آباد کابل یو ویډیويي فلم ور سره دی. زما تلوسه نوره هم ډیره شوه او ورغبرګه مي کړه:
ښه نو ښنګه او څه وخت به دا سړی وګورو؟
ده و ویل:
ته سبا وروسته له کاره مخا مخ زما کور ته راشه، بیا به ورشو.
ده ته مي ښه و ویل او سبا ماز دیګر پوري په دې سوچ کي وم، چي دا به څوک وي، ما خو کوم افغان فرهنګي ګڼلی و، خو هغه روس وخوت. سبا ته له حیدرپردیس سره چي ورغلو، که ګورم چي سړی روس دی.
پردیس سړي سره معرفي کړم. ما روسي ور سره ویله، خو ده په ویاړ سره کابلی په دري را سره پیل کړه. سړي تر دې وخته هم په افغانستان باندي د روسانو یرغل ته د مرستي نوم ورکاوه.
مرکي یې ما ته چندان خوند نه را کاوه، خو ما څه نه ویل. یو خو یې په کور کي ناست وم او بل یې نا بللی وطن ته راغلی وم. مجبوراً مي غوږ ور ته نیولی و او هره شیبه مي په زړه کي تیروله چي سړیه زه ستا د ماموریت د کیسي اوریدوته نه یم راغلی، زما کست په کار دی. په پای کي یې کست موږ ته امانت را کړ. پردیس کست ما ته وسپاره، په بیره کور ته لاړم او کست مي ولید.
زما د معلوماتو له مخي په هغه وخت کي هیڅ افغان دا کار نه و کړی، چي یو روس کړی دی. دې روس چي نوم یې اوس له ما نه هیر دی، ځکه ما یو وار ولید او بس. دی په کومه اداره کي مشاور و او په مکرویانو کي اوسیده. کومه ورځ یې خپله شخصي ویډیو کمره اخیستي، له مکرویانو څخه یې په فلم اخستلو پیل کړی دی. د کابل د ښار د ډیرو برخو نه یې فلم اخیستی دی او بیا په داسي حال کي چي کمره یې ریکارډ کي پریښي ده؛ د ارتل له پله نه د ګذرګاه له لارې چهلستون او بیا دارالامان ته او له هغه نه وروسته دهمزنګ ته او بیا د آسمايي غره سرته ختلی دی او له هغه ځای نه یې د ټول کابل فلم اخیستی دی.
هر افغان ته دا فلم باید جالب وي، ځکه په فلم کي د کابل ټولي ودانۍ، پلونه، واټونه ودان دي او حتی اکثریت خلک چي په فلم کي ژوندي ګرځي، اوس نه شته. ودانی وراني او خلک وژل شوي دي.
روس چي فلم د هرې موخي له پاره اخیستی وي، هغه ما لومه نه ده، خو دا چي بیرته یې د جوړ کابل تصویرونه تر افغانانو پوري ورسول، کور دې یې آباد وي.
فلم له هماغي ورځي تر نن پوري زما په شخصي آرشیف کي خوندي دی، یوازې یو وار مي د هیواد پیاوړي هنرمند او ډایرکټر سعید ورکزي ته د فلم یوه کاپي ورکړې ده.
زه په کابل کي زیږیدلی یم، خاپوړې مي په کي کړي، زده کړې مي په کي کړي او د ځوانۍ خوږې او د جګړې ترخي ورځي مي په کي تیرې کړي دي. د کابل کوڅي، ودانۍ واټونه، تاریخي ځایونه، بڼونه او غرونه ډیر ښه پیژنم. ما چي پخوانی کابل لیدلی و، بیا مي د همدې لیدلی کابل ډیري برخي تر سترګو وړاندې وراني کړای شوې، بیا مي ټول کابل په فلمونو کي وران ولید.
د کابل په کنډواله کولو باندي ورانکارو له خپلو ټولو امکاناتو نه په استفادې سره، له کابل نه داسي کنډواله جوړه کړه، چي په ټوله نړۍ کي یې ساری څوک نه شي پیدا کولای. لکه د ناوې په سینګارولو باندي چي یوه آرایشګره له خپلو ټولو زده کړو او لوستلو او لیدلو شیانو نه په استفادې سره ناوې د واده د ورځي له پاره سینګاروي؛ دغسي ورانکارو ټوپکیانو د کابل په کنډواله کولو باندي خپل ټول کوششونه تمام کړل او له کابل نه یې د یویشتمي پیړی داسي کنډواله جوړه کړه چي اوس یې لیدلو ته نړیوال په زرګونه ډالر لګوي او ورځي. او کله چي مي په ماسکو کي دا لاس ته راغلی فلم ولید، نومي کابل ته د «کابل د کنډوالوناوې» نوم ورکړ او دې مستند فلم ته مي هم دغه «کابل د کنډوالو ناوې» نوم کیښود.

کابل يې وران کړوران يې مه وای
لاس دې یې مات شي چا چي ویشتي راکټونه

د اوه لسمي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ